مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمدسمیع صادق

٢٠٢۶/٠٩/١١

# د دوو ګوتو فاصله

## لنډه قصه

هغه د کلمو کیمیاګر وو، فکر ئي کاوه چي د انسان د ذهن، احساساتو او چلند د هر حالت لپاره یوه کلمه پېژني، باور ئي دا وو چي په نړۍ کي داسي هېڅ غم او مینه نسته چي د بیانولو لپاره ئي کوم توری نه وي. د انسان وظیفه فقط توري ورته لټول دي. او دی ډاډه وو چي د کلمو پر دې لطیف هنر ئي بشپړ برې موندلی دئ.
او بیا د ده ژوند ته داسي ښځه راغله چي ډېري لږ خبري ئي کولې.
د لومړۍ لیدني په آخر کي ئي ترې وپوښتل:

- ته ولي دومره غلي یې؟

هغي موسکا وکړه. د دواړو لاسونو د ګوتو څوکي ئي سره یو ځای کړې.

- تر څو هغه څه هم په خبرو کي شامل پاته سي چي ویل کېدلای نه سي.

دوی به اکثره وخت د سیند پر غاړه پر یوه زاړه بېنچ کښېنستل. ده به د کتابونو، وخت، میني او مرګ خبري کولې، هغي به اورېدلې، څه به ئي نه ویل، د ده سترګو ته به ئي کتل، یوه وړه موسکا به ئي پر شونډو تېرېدل، سر به ئي ټيټاوه او د ده پښو ته به ئي کتل. همدا به په هري لیدني کي تکرارېدل. د خبرو په منځ کي به ئي تل د ګوتو څوکي سره مښلولې، لکه په لاسونو کي چي ئي هم کومه خبره روانه وي.

یوه ورځ چي دی د میني پر فلسفي ګړ وو، ناڅاپه ئي وپوښتل:

- زه چي د میني خبري کوم، ته غلي کېږې ولي؟

هغي چي د ده پښو ته کتل، وې ویل:

- مینه تورو ته اړتیا نه لري...که میني ته توری ورکړم، مینه به یوازي د هماغه تورو په اندازه پاته سي.
ده وخندل:

- عجیبه ساده یې، توري شیان خوندي ساتي.

هغي چي لا ئي سترګي د ده په بوټو کي وې، وویل:

- چوپتیا ښایي هغه شیان خوندي ساتي چي تر تورو لوی وي.

د ده خبري بیا پیل سوې...

یو ماښام هغي ورته وویل باید ښار پرېږدي. د وروستي ځل لپاره پر هماغه بېنچ سره کښېنستل. ده ډېري جملي له ځان سره په زړه کي تېري کړي. یوه به ئي جوړه کړه، بله به تر هغي ښکلي ورته پیدا سوه. بیا به ئي هغه هم پرېښوده. د وخت هغه څو شیبي تر ټولو هغو تورو درني وې چي ده ټول عمر زده کړي وه. دواړه غلي وه.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ

هغې خپل لاس پر بېنچ د ده لاس ته نژدې کېښېښود، دومره نژدې چې لمسولای ئې سوای، خو لمس ئې نه کړ. ده ته ئې وکتل او بیا ئې د دواړو لاسونو تر منځ فاصلې ته. د دې د سترګو په تعقیب د ده هم د دواړو لاسونو تر منځ هغه پاته لږ واټن ته پام سو. د دوو ګوتو د لږ واټن پر وړاندې، د ده هنر او ټوله کیمیاګري بې وسه وه. سترګې ئې واړولې د سیند څپو ته.

هغه وپاڅېده، څو قدمه ولاړه، مخ ئې ور واړاوه، د ده په سترګو کې ئې وکتل، موسکا ئې وکړه او ولاړه.
بیا ئې هیڅکله یو بل و نه لیدل.

کلونه وروسته چا له ده څخه وپوښتل:

- د تورو کیمیاګره، ستا د ژوند تر ټولو ښکلې جمله کومه یوه ده؟

بوډا خپل لاس پر مېز کېښېښود او د خپل لاس تر څنګ ئې تش ځای ته وکتل.

- لاس مې د یو لاس پر څنګ پروت وو. زما له لاسه دوې ګوتې لیرې.

سړي ورته وکتل:

- همدا جمله؟

بوډا موسک سو.

- هغه جمله د ژبې نه وه، د ګوتو په برخه رسېدلې وه.

بیا ئې د خپل لاس تر څنګ هغه تش ځای لمس کړ. له ځانه سره ئې دا جمله وویل:

- د دوو ګوتو هغه واټن فقط زما دوو ګوتو طی کولای سوای...

محمدسمیع صادق



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ